التعليم فوق الجميع | education above all

# خپل پلورنځی جوړ کړئ (لومړی درجه)

| | |
|---|---|
| **توضیح** | زده کوونکي به د حساب او سواد زده کووني ګڼ مفهومونه په شمول د اندازه ګیری، عددونو، شکلونو، قیمتونو، جمع، منفي (تفریق) او نوم ورکووني په خپلو دوکانونو کې زده کړي. |
| **مخکښه پوښتنه** | آیا تاسو خپل پلورنځی (دوکان) جوړولی شی؟ |
| **ټولټال اړین وخت** | په ۴ ورځو کې ۵ ساعته |
| **اړین توکي** | ورقه، رنګونه، قینچی |
| **د زده کړو پایلې** | ۱. د اندازه کولو او د وزن د معلوموملو معیاري مفهومونه<br>۲. د جمع، منفي او ضرب لومړنۍ عملیې<br>۳. د حساب د چارټونو بشپړولو او محاسبه کول<br>۴. د عددونو شکلونه او لیکل<br>۵. د قیمت مفهوم، د اجناسو لیستې او اعلانات |
| **مخکینۍ زده کړې** | له یوه پلورنځي (دوکان) څخه لیدنه |

## لومړۍ ورځ

نن به تاسو دا زده کړئ چې ستاسو کورنۍ کوم تولیدات په کور کې کاروي او تاسو به ددې پریکړه به وکړئ چې تاسو غواړئ کوم تولیدات یا توکي په خپل پلورنځي (دوکان) کې وپلورئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۱۰ دقیقې** | • د هغو دوکانونو (پلورنځیونو) او د هغوی د موخې په اړه فکر وکړئ چې تاسو ورته تللي یاست. د بېلګې په توګه: د خوراکي موادو پلورنځی، درملتون، د جامو پلورنځی او داسې نور<br>• تاسو به د ټولو موادو یو دوکان (پلورنځی) په ګاونډ کې جوړ کړئ چې ګڼ شمیر توکي پکې موجود واوسي. |
| **۲۰ دقیقې** | • د اړینو توکو د لیست په جوړولو سره د ټولو هغو موادو یا توکو په اړه معلومات راغونډ کړئ چې ستاسو کورنۍ ورته اړتیا لري.<br>• د کورنۍ له غړو څخه د هغو موادو یا توکو په اړه پوښتنې وکړئ چې ترټولو ډیر کارول کیږي او یا هم مصرف کیږي. |

| | |
|---|---|
| | بیا د هغو موادو لپاره یو د اړینو توکو یو چارټ جوړ کړئ چې د کورنۍ ټول غړي د هغوی د ډېر استعمال سره موافق وي. د بیلګې په توګه:<br><table><tr><td>توکي/مواد</td><td>د کورنۍ غړي چې هغه استعمالوي</td></tr><tr><td>شیدې</td><td>III</td></tr><tr><td>د غاښونو کریم</td><td>II</td></tr><tr><td>پنسل</td><td>LIII</td></tr></table> |
| ۲۰ دقیقې | • ددې په اړه پریکړه وکړئ چې تاسو به په خپل پلورنځي کې کوم توکي یا مواد پلوری او د ۱۰ یا ۱۵ داسې موادو یا توکو یو لیست جوړ کړئ چې تاسو فکر کوی ستاسو په دوکان کې د پیریدونکو لپاره به ډېر مشهور وي. د بیلګې په توګه:<br>- لباس (جامې): ۱. یخن قاق ۲. د خوب جامې ۳. پتلونونه<br>- میوې: ۱. مڼې ۲. کیلې ۳. مالټې او داسې نور<br>- څښاک: شیدې ۲. جوس<br>- خوراکي توکي: ۱. ډوډی ۲. حبوبات<br>- نور: ۱. مرتبانونه ۲. د غاښونو کریم ۳. پنسلونه او داسې نور |

## دوهمه ورځ


نن ورځ به تاسو په خپل پلورنځي کې د توکو/موادو د قیمتونو په اړه پریکړه وکړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | • د هر توکي قیمت معین کړئ (دا معلومه کړئ چې تاسو غواړی هر توکی په کوم قیمت سره وپلوری).<br>• تاسو کولی شی دا پریکړه د توکو د اصلي قیمت په اړه د پوهاوي څخه وروسته ترسره کړی.<br>• که چیرته تاسو غواړی چې د توکي په اړه معلومات ترلاسه کړی، د توکي په قوطې باندې د قیمت په اړه لیکل شوي معلومات ولولئ او یا هم د کورنۍ له غړو څخه د هغوی د قمیت په اړه پوښتنه وکړئ. |
| ۱۰ دقیقې | بغیر د میو او سبزیجاتو څخه نورو ټولو پرونیو توکو ته قیمت وټاکئ. د بیلګې په توګه:<br>- کتابونه: ۱۰<br>- شیدې: ۸<br>- ډوډی: ۴<br>- د غاښونو کریم: ۹<br>د خپل پلورنځي لپاره کاغذي روپۍ جوړې کړئ. تاسو کولی شی د هر نوټ لپاره مختلف رنګونه او یا هم شکلونه ورکړی.<br>د بیلګې په توګه: ۱ یو ژیړ ستوری ده، ۲ یو ګلابي دایره ده یا تاسو کولی شی دا د ریښتینو پیسو په شکل جوړې کړی چې په هغه باندې د مشهورو خلکو انځورونه وي او داسې نور.<br>د ۱ څخه تر ۲۰ پورې له ۲ څخه تر ۳ پورې نوټونه جوړ کړئ او هغه پرې کړئ. |

education above all
التعليم فوق الجميع

# دریمه ورځ

نن ورځ به تاسو خپل توکي اندازه کړی او هغوی ته به قیمتونه وټاکی.

| وراندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |
| ۲۰ دقیقې | د میو او سبزیجاتو د اندازه کولو لپاره یوه ترازو ډیزاین (جوړه) کړئ.<br>- د دوه پلاستیکي یا کاغذي پیالو په دواړو پورتنیو برخو کې سوري جوړ کړئ.<br>- په دغو سوریو کې یو تار وتړئ او د هغه تار په منځ کې یوه غوټه ورکړئ. دا تار باید د سطل د لاستي په شکل کې واوسي.<br>- د تار دواړه خواوې په یوه لرګي یا د جامو یوه چنګک پسې وتړئ. کولی شی چې دا تار یوې لښتې پسې هم وتړی چې دوو خواووته پرې ځایونه ولري.<br>- دغو پیالو ته د ۱ او ۲ یا د الف او ب نومونه ورکړئ.<br> |
| ۱۰ دقیقې | • مختلف توکي په دغې ترازو کې اندازه کړئ او یو معیاري د اندازه کولو واحد وټاکئ. تاسو نشی کولای چې سبزیجاتو او میو ته د دهغوی د شمیر له مخې قیمت وټاکی ځکه چې ځیني یې ډیر غټ دي او ځیني یې ډیر واړه. د بیلګې په توګه: دوه کچالو یا دوه رومیان (باټینګر) یوه اندازه او وزن نه لري.<br>• یو څو کوچني کاڼي یا هر هغه څه چې وزن ولري پیدا کړئ. په یوه پیاله کې کاڼی او یا هر هغه څه چې تاسو د اندازه کولو د واحد په حیث ټاکلی کیږدئ او په بله پیاله کې سبزي او یا هم میوه کیږدئ.<br>• فرض کړئ چې په لومړۍ پیاله کې د اندازه ګیری واخد ۱ ګرام دی. په دوهمه پیاله کې یو توکی لکه رومی او یا هم یو کچالو کیږدئ.<br>• آیا په دوهمه پیاله کې چې کوم توکی دی هغه ډیر وزن لري؟ که چیرته هغه توکی ډیر وزن ولري، تاسو باید په لومړۍ پیاله کې یو بل د اندازه ګیری واحد اضافه کړئ. او بیا یې وګورئ چې آیا وزن یې یوشان دی او که نه.<br>• که چیرته لومړۍ پیاله درنده وي (ډیر وزن ولري) تاسو باید د لومړۍ پیالې څخه یو څه وزن کم کړئ. |
| ۲۰ دقیقې | • ټول انتخاب شوي سبزیجات او میوې اندازه کړئ او یو حسابي (شمیرنې) چارټ ورته جوړ کړئ. |

| | |
|---|---|
| • د میو او سبزیجاتو د وزن په مطابق د هغوی د قیمت په اړه فکر وکړئ او وېې لیکئ. د بیلګې په توګه: تر ټولو ډیر دروند به تر ټولو ډیر قیمت ولري. | |

## خلورمه ورځ:

نن ورځ به تاسو نړۍ او شمسي (لمریز) نظام په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۱۵ دقیقې** | • د خپل دوکان (پلورنځي) د نوم په اړه فکر وکړئ او یو ښکلی پوسټر د پلورنځی د نوم او نښانې سره جوړ کړئ. |
| **۱۵ دقیقې** | • ټولو موادو یا توکو ته د قیمت د ټاکلو یو پرایس ټګ جوړ کړئ او خپل پلورنځی د شته ټولو توکو په منظم شول ځای پر ځای کولو سره چمتو کړئ.<br>• د کورنۍ له غړو څخه وغواړئ چې پلورنځي ته ورشي او مختلف توکي وپېري. همدا راز د کورنۍ غړو ته د پیسو لوی نوټونه وویشئ او کوچني نوټونه له ځان سره وساتۍ. |
| **۳۰ دقیقې** | • د هغو توکو لپاره د ټولټال بیل قیمت جمع کړئ چې پیریدونکو پیرلي وي. ټولې پیسي جمع کړئ او باقي روپۍ پیریدونکو ته بیرته ورکړئ.<br>• د لوبې په پای کې ټولې هغه پیسې وشمیرئ چې دوی ترلاسه کړي دي. |

## د ارزونې معیارونه

- د کورنۍ څخه د راټولو شویو څیزونو پر بنسټ د لیست انتخاب او چمتو کول .
- د MRP یا څیزنې پر بنسټ د مختلفو شیانو قیمت
- د بانک نوټ ډیزاین او وضاحت
- د وزن اندازه کولو اغیزمنتوب
- کله چې د هټیوال رول لوبوی، د پیسو مدیریت

## دغني کوولو اضافي فعالیتونه

- د پلورل شوي مختلف توکو سلنه محاسبه کړئ.
- د پیسو لپاره عددي دندې جوړې کړئ.

## د آسانه کولو لپاره بدلونونه

- د کوچنیو زده کونکو لپاره د پیمانې فعالیت له منځه وړل.